د پرائیویټ تعلیمي ادارو د پاره

# اسانه پښتو

( مجوزه نصابی کتاب منظوم )


لیکوال

**مولانا احمدعلی مردانی**

فاضل جامعة العلوم الاسلامیه علامه محمد یوسف بنوری ٹاؤن کراچی



ناشر

اسلامی ادبی ټولنه

مردان خیبر پختونخوا

بسم الله الرحمٰن الرحيم

ورومبې سبق ................ دَ اول جماعت دَ پاره

دَ حمد باري تعالىٰ دَ تدريس اهم مقاصد :

★ماشومان دَ الله تعالىٰ دَصفاتو نه خبرول

★دَ الله دَ قدرت او عظمت نه ماشومان خبرول

★ دَ حمد دَ تدريس نه پس ماشومانو ته دَ يو شان اواز لرونکو الفاظ ذخيره ورکول

# حمد باري تعالىٰ

دا چې بره شين اسمان دے

دا زمونږ چې ټول جهان دے

رانه لاندې غونډه زمکه

نۀ ده نۀ ده دا نازکه

څۀ ګلونه څۀ ازغى دى

ټول څيزونه قيمتى دى

څۀ ده نرمه ، څۀ ده کلکه

کاڼې ، خاوره ده بيشکه

ساه لرونكي ټول ژيزونه
دَ موسم ښكلي رنګونه
هواګاني دَ سحر
رڼاګاني دَ پاس نمر
په تيارۀ كښې رڼا ستوري
دَ سپوږمې حُسن چې ګوري
ښكلي ښكلي ځنګلونه
ميدانونه دنګ دنګ غرونه
دَ هوا بره مارغان
د دې زمكې بيابان
پيدا كړي هر څۀ ربَ دی
دَ عجم كۀ دَ عرب دی
هغه ذات زمونږ خالق دے
هغه ذات زمونږ رازق دے
يو مالك زمونږ دَ ټولو
دا سبق كللك دَ يادولو

حمد اول زمونږ سبق دے

حمد کوُل دَ مولا حق دے

حق ئې دلته اطاعت دے

حق ئې دلته عبادت دے

يو اللّٰه ته چې سجده وي

دَ ژوند هله به مزه دي

احمد دلته ئې بنده دے

يو اَللّٰه ته په سجده دے

(ليکوال : مولانا احمدعلى مردانى )

# مشغولتيا

خاص لفظونه : رڼا ګانې ، هواګانې ، څيزونه ، رنګونه ،ځنګلونه ، مارغان ، بيابان ، اسمان

دَ لاندينو سوالونو لنډ ځوابونه اُوليکئ.

سوال : حمد څۀ ته وائي ؟

سوال : حمد کښې دَ چا تعريف بيان وي؟

سوال : ماشومان دې په حمد کښې يوشان اوازلرونکي ټکي راجمع کړئ او په خپله کاپي کښې دې هغه ټول ښه خوشخطه اُوليکئ.

سوال : ماشومان دې حمد زبانې ياد کړې بيا دې د اسمبلې وخت پوره اسکول ته يا په کلاس کښې خپل اُستاذ/ ملګرې ته واوروي .

سوال : صحيح جواب ته (۷) نخښه اُوکړئ .

★ حمد هغه نظم ته وئيلې شي چې په کښې دَ .......... صفت بيان شوې وي.

(الف) اللّٰه تعالیٰ (ب) محمد رسول اللّٰه ﷺ

★ دَ اطاعت هم آواز دے .

(الف) سجده (ب) عبادت

★دَ قيمتی هم قافيه لفظ دے :

(الف) ازغی (ب) رڼاګانې

سوال : دَ حمد باري تعالیٰ په مدد سره خالی

ځايونه په مناسبو ټکو ډك کړئ .

★ ......... نظم ته وئيلې شی چې په کښې دَ

اللّٰه تعالیٰ صفت بيان شوې وی .

★ يو اللّٰه ته چې ...................... وی .

★ هغه ذات زموږ ............... دے .

دَ اُستاذانو دَ پاره هدايات:

اُستاذان دې ماشومان دَ حمد ، قافيې او رديف

په معنې پوره پوره پوهه کړئ .

★★★★★★

دوېم سبق ................... دَ اول جمات دَ پاره

دَ زده کړې نتيجه:

ان شاء الله ماشوم به ددې نعت په زده کړې سره دَ حضور ﷺ د ډيرو صفاتو نه خبر شي او دَ اُستاذ په مدد سره به دَ نعت دَ تعريف نه څان آګاه کړي .اور ورسره به ماشوم د ډيرو لفظونو په معنىٰ پوهه شي .

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ

راته ګران چې له هر چا دے

محمد رسول الله ﷺ دے

مرتبه ئې عاليشانه

افضل غوره انبياء نه

قدرمنده ، مهربانه

ډير دے زيات شيرين بيانه

بنۀ اعلا دے بنۀ اعلا دے

محمد رسول الله ﷺ دے

نازل دوی باندې قرآن دے

حق دَ پاك الله بيان دے

نازل شوي له آسمان دے

زماکلك په دې ايمان دے

تول رښا دے ، تول رښا دے

محمد رسول الله ﷺ دے

په لقب سره امين دے

اوّلين دے آخرين دے

له هر چا نه ډير حسين دے

رحمة اللعٰلمين ﷺ دے

مصطفیٰ دے مجتبیٰ ﷺ دے

محمد رسول الله ﷺ دے

ښۀ كامله په سيرت دے

په دوی ختم نبوت دے

په دوی ختم رسالت دے

ژوند ئې ټول صفت صفت دے

ښکلې تل په هر ادا دے

محمد رسول الله ﷺ دے

د دوی لاره دَ جنت ده

نيغه لار دَ هدايت ده

نيغه لار دَ سعادت ده

ښه احمده! دَ عزت ده

زيات له ټول جهان خيرخواه دے

محمد رسول الله ﷺ دے

ليکوال : مولانا احمدعلی مردانی

# مشغولتيا

دَ لاندينو سوالونو لنډ ځوابونه اُوليکئ .

سوال : نعت څۀ ته وائی ؟

سوال : په دې نعت کښې دَ حضرت محمد رسول اللّٰه ﷺ کوم کوم صفات بيان شوي دي؟

سوال : ماشومان دې په نعت کښې يوشان آواز لرونکی ټکی راغونډ کړي اوهغوی دې هغه په خپلو کاپو کښې اُوليکئ .

سوال : ماشومان دې نعت زبانی ياد کړئ او دَاسکول يا دَ جمات اُستاذ ته دې واؤروی.

لاندينو ورکړې شوو جملو کښې مناسب ټکی اُوليکئ .

★نازل دوی باندې ................ دے .

★ ....... هغه نظم ته وائی چې په کښې دَ حضرت محمد رسول اللّٰه ﷺ صفت بيان

شوي وي .

★ افضل غوره ...................... نه

دَ درست جواب خوښ کړئ .

★نعت هغې نظم ته وئيلې شی چې په کښې

دَ ...................... صفت بيان شوې وی .

(الف) محمد رسول الله ﷺ (ب) دَ صحابهؓ

★ اوَلين دے ...................... دے .

(الف) يٰسين (ب) طٰه (ج) اٰخرين

★زيات له ټول ............... خيرخواه دے.

(الف) جهان (ب) اسمان (ج) قدردان

......................

دریم سبق ..................... دَ اول جمات دَ پاره

دَ زده کړې نتیجه:

ان شاء اللــه ماشوم بــه ددې منظوم سبق پـه لـوستـنــه سره دَ حـضور ﷺ دَ پاك سیرت نـه بـعضې حصه یاده کړي. اورِ دَ سبق په مدد سره بــه دَ پښتـو مـختـلف تـکی لوستل لیکل زده کـړي . اورِ دَ متـرادف الـفاظو یوه ذخیره به ځان سره په سینه کښې محفوظ کړي .

## دَ حضور پاك ﷺ سیرت

دَ حضور ﷺ ښکلې سیرت
یاد ساته دا هر ساعت
دَ ژوندون رڼا په دې کښې
یاد ساته دا هر حصې کښې
غوره غوره ښهٔ افضل دے
په لقب ختم الرُّسل ﷺ دے

پيداشوے په مکه کښې
بيا روضه ئې مدينه کښې
شام ته تلى په سفر دے
زمونږ ښکلې پيغمبر ﷺ دے
مل دَ ترۀ ابوطالب وۀ
مَل دَ ښۀ ابوطالب وۀ
دا ساعت دَ دولس کالو
ځان خبر کړۀ له احوالو
دَ راهب قصه په دې کښې
ځان خبر کړه مدرسې کښې
په دويم ځل بيا تجارت له
سبق دې کښې دې اُمت له
ګټه کيږى په ريښتيا تل
هر طرف ته په دُنيا تل
تجارت له په دويم ځل
سامان وړې دوى د بل

ميسره سره سفر کښې
د دُنيا په دغه در کښې
نوم ئې حضرت محمد ﷺ دے
ورسره دَ ربَ مدد دے
ګران په حضرت خديجهؓ دے
څنګ چې ګران په عائشهؓ دے
په هر يو بی بی ډير ګران
زمونږ خوږ نبی سلطان ﷺ
دَ هر يو مؤمن دلبر ﷺ دے
اٰخيری حق پيغمبر ﷺ دے
ورسره دَ ربَ قراٰن دے
چې په دوی آباد جهان دے
د پلار نوم ئې عبدالله دے
په نسبت سره اعلا دے
آمنه بی بی ئې مور ده
خوشحالی دَ پاك حضور ﷺ ده

دَ مکي ښکلي فضا کښې
خوشبوئی لری هوا کښې
نیکهٔ عبدالمطلب دے
ګران ورته ابوطالب دے
مرسته کوُله دوی د دوی
سَم په شان دَ خپل بچی
دَ حضورﷺ دا ښکلي ترهٔ وو
پاك حضورﷺ سره ډیرښهٔ وو
حلیمه بی بی ده مور
دَ پیو دَ پاك حضورﷺ
څلور ښې ښکلي لوریانې
تولې پاك حضورﷺ ته ګرانې
یو زینبؓ بله کلثومؓ ده
په نامه هر یو معلوم ده
بله دریمه رقیهؓ ده
فاطمهؓ په کښې وړه ده

دا ځلور ښكلي لورياني
هرساعت حضور ﷺ ته ګراني
درې ځامن دَ خوږ نبی ﷺ دی
كامياب هغوی ابدی دی
په نوم ياد يَو ابراهيم دے
ځوئې دَ خوږ نبی كريم ﷺ دے
دويم قاسم بل عبدالله دے
دَ هر يو مقام جُدا دے
چې طيب طاهر شی ياد
عبدالله به وی مراد
دا القاب دَ عبدالله دی
ښه نومونه په دُنيا دی
ټول اولاد دَ پيغمبر ﷺ دا
ياد ساته ښۀ برابر دا
يو حصه دَ پاك سيرت ده
اے احمده ! ټول صفت ده

# مشغولتیا

ورومبي سوال : دَ لاندیني سوالونو لنډ
ځوابونه په خپلو کاپو کښې اُولیکئ .

★ زمونږ دَ خوږ پیغمبر ﷺ څهٔ نوم دے؟
★خاتم النبیین دَ چا صفت دے ؟
★دَ حضرت محمد ﷺ دَ والد محترم څهٔ نوم دے؟
★دَ حضرت محمد ﷺ دَ والدې محترمې څهٔ نوم دے؟
★دَ حضرت محمد ﷺ دَ نیکهٔ څهٔ نوم دے؟
★په نظم کښې دَ حضور ﷺ دَ کوم ترهٔ ذکر راغلې دے؟
★ دَ حضرت محمد ﷺ دَ نارینه اولاد نومونه اُولیکئ .
★ دَ حضور ﷺ څو لوریانې دی او په ټولو
کښې دَ هغوی وړه (کشره) لور په څهٔ نامه یاده ده ؟
★طیب ، طاهر دَ چا القابات دی ؟
★زمونږ پیغمبر ﷺ په کومه ښاریه کښې پیدا شوې دے؟
★زمونږ پیغمبر ﷺ کوم ښار ته هجرت کړے وۀ؟
★ملك شام ته حضور ﷺ څو ځله سفر کړې دے؟
★ دَ شام ته په دویم سفر کښې حضور سره څوك

ملګري وه؟

دويم سوال: په نظم کښې يوشان آواز لرونکې ټکي (هم قافيه) راجمع کړي. اُستاذ دې هغه ټکې ماشومانو ته په بورډ اُوليکئ. بيادې ماشومان هغه ټکې په خپلو کاپو کښې اُوليکئ.

دريم سوال: دَ خپلو مشرانو په مدد سره دَ مکې مکرمې اودَ مدينې منورې دَ مشهورو مقاماتو تصويرونه راجمع کړي او په يو چارټ ئې اُولګوی. بيا هغه چارټ په خپل کمرهٔ جماعت کښې دَ څهٔ څيز په مدد اُولګوئ.

څلورم سوال: دَ نظم ټول ټکي دَ الف بائی په ترتيب دې اُستاذ په بورډ اُوليکی او بيا دې ئې ماشومان ښهٔ خوشخطه خپلو کاپو کښې اُوليکی.

## څلورم سبق ..... ........... دَ اول جمات دَ پاره

**دَ زده کړي نتيجه:**

ان شاء الله ماشوم به ددې منظوم کلام په مدد سره دَ اصحابِ رسول ﷺ دَ شان نه خبر شی .

دَ ماشومانو په زړونو کښې به دَ دَ صحابه کرامؓ سره مینه راپیدا شی .

# تذکرۂ دَ صحابهؓ

دَ نبی ﷺ خوارۀ یاران دی صحابهؓ
بره ستوری دَ اسمان دی صحابهؓ
اقتدا د دوی چې اُوکړے نو کامیاب ئې
لاثانی انسان به دلته په هر باب ئې
رڼاګانې په جهان دی صحابهؓ
دَ نبی ﷺ خوارۀ یاران دی صحابهؓ
شریعت پوره تمام د دوی سیرت کښې
نورسنت پوره تمام ددوی سیرت کښې

دَ نبی ﷺ تول عاشقان دي صحابهٔ
دَ نبی ﷺ خوارهٔ یاران دي صحابهٔ
کۀ کلمه ده رارسولے راته دوی ده
حق جمله ده رارسولے راته دوی ده
دَ عزت تول خاوندان دي صحابهٔ
دَ نبی ﷺ خوارهٔ یاران دي صحابهٔ
بهترینه ئې اعلا بنۀ زندګی ده
مثالی ئې په دُنیا کښې بندګی ده
رحمتونه ، عالیشان دي صحابهٔ
دَ نبی ﷺ خوارهٔ یاران دي صحابهٔ
امامان په جمع تول دَ خاص وعام دي
حدیثونه نقل کړي دوی تمام دي
کاتبان تول دَ قرآن دي صحابهٔ
دَ نبی ﷺ خوارهٔ یاران دي صحابهٔ
قرآن وائی جوړ د دوی په شان مؤمن شه
رحمٰن وائی جوړ دَ دوی په شان مؤمن شه

مثالی تول مؤمنان دي صحابهٌ
دَ نبی ﷺ خوارهٔ یاران دي صحابهٌ
دَ هر چا مشري وروستو اول دوي دي
دَ دُنیا مشري وروستو ، اول دوي دي
مشران خو مشران دي صحابهٌ
دَ نبی ﷺ خوارهٔ یاران دي صحابهٌ
دَدوي قدر دَ اسلام قدر عزت دے
غوره غوره اُمتونو کښي امَت دے
دَ شاهانو دا شاهان دي صحابهٌ
دَ نبی ﷺ خوارهٔ یاران دي صحابهٌ
ضروري د دوي ادب او احترام دے
دَ احمدعلی پیغام پوره تمام دے
بُنیادونه دَ ایمان دي صحابهٌ
دَ نبی ﷺ خوارهٔ یاران دي صحابهٌ

....................

# مشغولتيا

صحابيؓ چاته وائي ؟ دَ اُستاذ په مدد سره دَ صحابيؓ تعريف زده کړي او بيا ئې په کاپو کښې اُوليکئ .

سوال : په تير کلام کښې يوشان آواز لرونکي ټکي راغونډ کړئ او په خپلو کاپو کښې ئې اوليکي .

سوال : خالي ځايونه دَ منقبت په مدد سره ډك کړئ .

دَ شاهانو دا..................دي صحابهؓ

دَ نبي ﷺ خوارۀ .............. دي صحابهؓ

ضروري د دوي ..................... دے

سوال : منقبت څۀ ته وائي ؟ ددي سوال جواب له اُستاذ په نه زده کړئ او په خپلو کاپو کښې ئې اوليکئ .

**پنځم سبق ............ دَ اول جمات دَ پاره**

**دَ زده کړې نتيجه:**

**ان شاء الله ماشوم به ددې منظوم کلام په مدد سره دَ ورزش کوُلو فائدې زده کړې.**

# ورزش

دَ ورزش ډېرې فائدې دی
د دې خپلې طريقې دی
نهٔ غټ والے دَ بدن وی
صحت مند ورسره تن وی
طريقې نوې ، زړې دی
دَ ورزش ډېرې فائدې دی
هاضمه ورسره ټيک وی
دا معده ورسره ټيک وی
چې په تن بدن خولې دی
دَ ورزش ډېرې فائدې دی

بلډ پریشر ورسره کم وي
بدنونه ښکلي سَم وي
دا کارونه بې خطرې دي
دَ ورزش ډېرې فائدې دي
سحر منډې په سړکونو
ستړې والې په ټوپونو
طريقې تولې دا ښې دي
دَ ورزش ډېرې فائدې دي
دا پکار دے هر اندام له
دا پکار دے خاص او عام له
خوشحالې تولې په کښې دي
دَ ورزش ډېرې فائدې دي
سُستي ختمه دَ انسان کړي
بيدار هر يو په جهان کړي
مستقبل کښې بيا مزې دي
دَ ورزش ډېرې فائدې دي

دا احمده! تول صحت دے

بيمارو نه حفاظت دے

تول په منډه ورپسي دي

دَ ورزش ډېري فائدي دي

........................

# مشغولتيا

دَ انسـان دَ وجود دَ صحت مند ساتلو دَ پاره کوششونه ، مختلف تدبيرونه اختيارولو ته ورزش وائي .... دَ ورزش څه څۀ فوائد دي ماشومان دي دَ نظم په مدد سره بيان کړئ .

ماشومان دي دَ اُستاذ په مدد سره دَ ورزش دَ قسمونو نه ځان خبر کړئ .

سوال : په تير کلام کښې يوشان آواز لرونکی ټکی راغونډ کړئ او په خپلو کاپو کښې ئې اوليکی .

سوال : خالي ځايونه دَ نظم په مدد سره ډك کړئ .

دا پکار دے هر ......... له

دا پکار دے خاص او....... له

دَ ورزش ډيرې......... دي

شپږم سبق ..... ........... دَ اول جمات دَ پاره

دَ زده کړې نتيجه:

ان شاء الله ماشومان به ددې منظوم کلام په مدد سره دَ اتفاق په معنیٰ پوهه شي . او دَ اتفاق دَ اهميت نه به خبر شي .

# اتفاق

اتفاق کښې برکت دے
ځان خبر کړۀ حقيقت دے
يو يو جمع شي لښکر شي
بيا کامياب په هريو در شي
کله يو کښې دا طاقت دے
اتفاق کښې برکت دے
دَ ميږيانو اتفاق وی
نۀ په دوی کښې څۀ نفاق وی
مثالی ئې حکومت دے

اتفاق کښې برکت دے
جوړ قطرو نه سمندر دے
دَ يو کله درونډ اثر دے
دَا دَ هريو څيز حالت دے
اتفاق کښې برکت دے

يويو حرف نه ټکي جوړ
مثال نو ے ، نه دے زوړ
دا چې څو مره عبارت دے
اتفاق کښې برکت دے

تنها يوانسان څۀ نه دے
تنها يو انسان ښۀ نه دے
يو يو فرد نه جوړ اُمت دے
اتفاق کښې برکت دے

کله يو نه جوړ محل دے
څۀ بُنياد، څۀ ئې اصل دے
يو يو ښخته عمارت دے

اسانتيا په اتفاق ده

دا دُنيا په اتفاق ده

دَ احمد بنۀ نصيحت دے

اتفاق کښې برکت دے

.........................................

ووم سبق ........ ........... دَ اول جمات دَ پاره

دَ زده کړې نتيجه:

ان شاء الله ماشومان به ددې منظوم کلام په مدد سره دَ صفائې په معنىٰ پوهه شي . او دَ صفائې دَ اهميت نه به خبر شي .

# صفائی

صفائی ډېر ښهٔ عادت دے
دا چې نن دَ چا صفت دے
مسلمان مدام صفا وی
خوښ دَ ټولو په هرخوا وی
ښکلې خوئې دا ښهٔ خصلت دے
صفائی ډېر ښهٔ عادت دے
جامې پاکې چې دَ چا وی
خوښ دَ هر چا خامخا وی
يَو په دې بيان اُمّت دے

صفائی ډير ښۀ عادت دے
چې بدن دَ چا صفا وي
انسانانو کښې اعلا وی
ورسره مدام عزت دے
صفائی ډير ښۀ عادت دے
ښۀ صفا ساتل غاښونه
اغستل دی هم نوکونه
دا صحت دے دا صحت دے
صفائی ډير ښۀ عادت دے
نۀ به ګند نۀ به ډيران وي
صفائی چې په جهان وی
ښۀ دولت دَ آخرت دے
صفائی ډير ښۀ عادت دے
مۀ نالې ساتې خيچنه
دا عادت جوړ کړې له ننه
کار څۀ لږ شان دَ محنت دے

صفائی ډیر ښۀ عادت دے
نۀ به ماشی نۀ مچان وی
چې صفا هر یو مکان وی
دا هر چا ته نصیحت دے
صفائی ډیر ښۀ عادت دے
نۀ به اسکول کلې خیچن وی
فکرمند چې هر یو تن وی
ګندګی خورول لعنت دے
صفائی ډیر ښۀ عادت دے
جراثیم په دې ختمیږی
صحت مند بدن جوړیږی
ښۀ عمل دے، سعادت دے
صفائی ډیر ښۀ عادت دے
صفائی دا نیم ایمان دے
حق فرمان دَ خوږ جانان ﷺ دے
عمل ډیر اعلا اُوچت دے

صفائی ډير ښهٔ عادت دے

خيال پکار دَ صفائي دے

خيال زمونږ دَ زندګي دے

دا احمده ! حقيقت دے

صفائی ډير ښهٔ عادت دے

..................

اتهم سبق ........ ........... دَ اول جمات دَ پاره

دَ زده کړې نتيجه:

ان شاء الله ماشومان به ددې منظوم کلام په مدد سره د يخنۍ دَ موسم صفات اُوپيژنی .

# دَ يخنۍ موسم

تصويرِ بدليږی داسې ښکاری دَ يخنۍ موسم دے
بدن رپيږی داسې ښکاری دَ يخنۍ موسم دے
شوروشوې يخې هواګانې پاس هوا يخه شوه
ورسره رُو رُو په مزه مزه دُنيا يخه شوه
ګرمی ختميږی داسې ښکاری دَ يخنۍ موسم دے
تصويرِ بدليږی داسې ښکاری دَ يخنۍ موسم دے
غرونو ته اُوګورے دې غرونو سپين څادر په سر کړۀ
د واورې ښکلې دوی اعلا حسين څادر په سر کړۀ
زمکه يخيږی داسې ښکاری دَ يخنۍ موسم دے
تصويرِ بدليږی داسې ښکاری دَ يخنۍ موسم دے

مياشت بيا دَ پوه ده سَله بهر په ميدان پرته ده

سحر را پاسه په پتهو پُلو عيان پرته ده

نمر نه ګرمېږی داسې ښکاری دَ يخنې موسم دے

تصوير بدلېږی داسې ښکاری دَ يخنې موسم دے

خلقو راخستې ، دوی اچولی بنينونه ګرم

څنو راغستی څان دَ پاره دي کوټونه ګرم

پانې زيړېږی داسې ښکاری دَ يخنې موسم دے

تصوير بدلېږی داسې ښکاری دَ يخنې موسم دے

ګرم بوټان ، ګرمه ټوپې اَچولے هر سړی ده

ختمه له هرطرف نه رُو رُو په مزه ګرمی ده

ورځې لنډېږی داسې ښکاری دَ يخنې موسم دے

تصوير بدلېږی داسې ښکاری دَ يخنې موسم دے

بړستنې واغستلې خلقو دَ آرام دَ پاره

کمبلې واغستلې خلقو دَ آرام دَ پاره

په کښې پټېږی داسې ښکاری دَ يخنې موسم دے

تصوير بدلېږی داسې ښکاری دَ يخنې موسم دے

ګانې شورو شی هم ميلونه دَ چينو چليږی

چقندر ورته او ګنې بيا په ترالو چليږي
ګانې چليږي داسې ښکاري دَ يخنې موسم دے
تصوير بدليږي داسې ښکاري دَ يخنې موسم دے
اوبه ګرميږي په خشاك سره اودس دَ پاره
اوبه ګرميږي هر مجبورله هر يو کس دَ پاره
ګيزرلګيږي داسې ښکاري دَ يخنې موسم دے
تصوير بدليږي داسې ښکاري دَ يخنې موسم دے
موسم بدليږي داسې ښکاري دَ يخنې موسم دے
اُوچې شوې پانړې شنې دَ اُونو دَ يخنې دَ لاسه
څنګه چې اُوچې شي شنې پانړې دَ ګرمې دَ لاسه
ګياه اُوچيږي داسې ښکاري دَ يخنې موسم دے
تصوير بدليږي داسې ښکاري دَ يخنې موسم دے
په موټرسائيکل سفر ګران شي دَ انسان دَ پاره
غم ، خادي دې سره شي ګرانه خاندان دَ پاره
مالتې خرڅيږي داسې ښکاري دَ يخنې موسم دے
تصوير بدليږي داسې ښکاري دَ يخنې موسم دے
مولې ، تيپر چې رانښکاره شي علامت دَ څۀ دے ؟

يا چقندر چې رانبکاره شي علامت دَ څهٔ دے ؟

داسې ښکارېږی داسې ښکاری دَ يخنې موسم دے

تصويږ بدلېږی داسې ښکاری دَ يخنې موسم دے

دَ هر موسم احمده! خپل خصوصيات دلته دی

جُدا ئې شان وی دَ هر يو څه علامات دلته دی

پاس معلومېږی داسې ښکارېږی دَ يخنې موسم دے

تصويږ بدلېږی داسې ښکاری دَ يخنې موسم دے

لوږه زياتېږی داسې ښکاری دَ يخنې موسم دے

تصويږ بدلېږی داسې ښکاری دَ يخنې موسم دے

.......................

نهم سبق ........ ............ دَ اول جمات دَ پاره

دَ زده کړې نتيجه:

ان شاء الله ماشومان به ددې منظوم کلام په مدد سره د يخنې دَ موسم صفات اُوپيژنی .

# هنر او هنر منده

ښۀ هنر دے هنر منده
ورسره دے قدرمنده
په هرڅيز کښې خپل اُستاذ دے
هنرمند دَ بل اُستاذ دے
خاص او عام ورته محتاجه
مونږ مدام ورته محتاجه
ضرورت ورته دَ ټولو
ژوند چليږی په اُصولو
معلم ورته ټول وائی
دا سبق چې بل ته ښائی

معالج دَ رنځورانو
دي طبيب دَ انسانانو
کرونده چې کړي پټو کښې
زميندار دے ياديدو کښې
چې ګنډي ښځلې پيزار
دا سړي به وي چمیار
دَ بټې کار دَ لوهار دے
له خپل کار نه خبردار دے
ګلکار جوړ کړۀ ديوالونه
جوړوُي زمونږ کورونه
دَ قصاب لاس کښې چاړۀ وي
خرڅول غوښه کار د دۀ وي
ښاروي دي حلالوي به
په دي خپل رزق ګټي به
ناسته ګاډي ته ډرائيور کړي
هله ګاډي به سفر کړي

چلوُي ګاډي ډرائيور
هر خوا ته ساتی نظر
دا په ډاك چي مقرر دے
دا ډاکي دَ هر خبر دے
دا درزی دے چي ګنډل کړي
هريو دلته روزګار خپل کړي
دَ هر چا دے خپل هنر
نه ورځی دَ بل هُنر
د يو بل دوی پکاريږی
سکون ژوند کښي پيدا کيږی
يو دَ بل چي مددګار دی
په سکون به کلي ، ښار وی
دا تقسيم زما دَ ربّ دے
هريو پوهه په مطلب دے
دَ احمد تحرير تمام شو
ورسره پوره کلام شو

# مشغولتيا

دَ نظم په مدد سره لاندينى خالى ځايونه ډك كړئ.

دَ بتهي كار دَ .......... دے
له خپل كار نه .......... دے
ګلكار جوړ كړۀ .............
جوړوُى .............. كورونه
دَ قصاب لاس كښي........وى
خرخول.......... كار د دۀ وى
چلوُى ............... ډرائيور
هر خوا ته ساتى.........
دا په.......... چي مقرر دے
دا ډاكي دَ هر......... دے
دا درزى دے چي.........كړى
هريو دلته ..........خپل كړى

لسم سبق .......... ........... دَ اول جمات دَ پاره

دَ زده کړې نتيجه:

ان شاء الله ماشومان به ددې منظوم کلام په مدد سره د عظيم دَ پښتو صوفي شاعر عبدالرحمٰن بابا په باره کښې متعلق ترلاسه کړي . او دَ پښتو دَ الفاظو يوه نوې ذخيره به په ليکلو او لوستلو سره ياد کړي .

# عبدالرحمٰن باباؒ

دَ پښتونخوا دَ پښتنو عبدالرحمٰن باباؒ
ژيه خوږه لرونکې دے عظيم انسان باباؒ
دَ خپلې ژبې په خدمت باندې مئين بنۀ پوره
په پښتون قوم ، په ژبه داسې مهربان باباؒ
پوره مکتب ، دا مدرسه ئې شاعري دلته ده
دَ شاعرانو سلطنت کښې لوئې سلطان باباؒ
پوره پوره په تله دلته بې بيتونه تمام

داسې شعرونه لري دلته دَ جهان باباؒ

واعظ اعلا د دې جهان لري اعلا قلم

ځکه دَ قدر کوی دلته هر بیان باباؒ

پسته ئې ژبه دَ شعرونو په دُنیا دلته کښې

اصلاح کوُنکې دَ خپل قوم په هر میدان باباؒ

پکار احمده ! دی پښتون له دی تمام اُوګوری

خوشبو خوشبو لیکلې دلته کښې دیوان باباؒ

.............................

# مشغولتيا

دَ نظم په مدد سره په مناسبو ټکو لاندينی

خالی ځايونه ډك کړئ .

دَ پښتونخوا دَ پښتنو ............... بابا

ژبه خوږه لرونکي دے عظيم .........بابا

دَ خپلي ژبي په خدمت باندي....... ښهٔ پوره

په ..........قوم ، په ژبه داسي مهربان بابا

پوره مکتب ، دا مدرسه ئي شاعري دلته ده

دَ شاعرانو سلطنت کښي لوئي سلطان بابا

سوال : ماشومان دي دَ خپل اُستاذ په مدد سره

دَ صوفی شاعر عبدالرحمٰن بابا" په باره متعلق

حاصل کړي .... اُستاذ دي دَ ټولو خبرو

خلاصه په يو چارټ يا بورډ اُوليکی . دَ کلاس

ماشومان دي بار بار هغه ووائی .

سوال: يوشان آواز لرونکی ټکي را جمع کړي.

يوولسم سبق ............... دَاول جمات دَ پاره

دَ زده کړې نتيجه:

ان شاء الله ماشومان به ددې ترانه په ذريعه دَ خپل وطن سره دَ مينه اظهار کوُلو والا جوړ شي .(اُستاذ دې زياني دَ وطن باره کښې خيالات دَ نظم نه وړاندې بيان کړي .)

# ملّي ترانه

ښکلې وطنونو کښې زمونږه دا وطن
هرخواته خوشبو په هرطرف چمن چمن
زۀ منمه غټې سلسلې هم شته دَ غرونو
دلته سلسله شته دَ نهرونو ، دريابونو
دا اباد په دغې سلسلو دے په سړکونو
يوه گلدسته ده دَ مولا دَ نعمتونو
خلق ئې قابل دي ښۀ خبردي له هر فن
ښکلې وطنونو کښې زمونږه دا وطن

ډيره ئې دَ قدر هر حصه د دې دُنيا
توله ئې خوشبو خوشبو فضا بره هوا
ښکلې موسمونه په کښې دی جُدا جُدا
هريوه لمحه ئې دَ سکون ده ښۀ اعلا
ښکلې دے شيرين دے دَ وطن زما سخن
ښکلې وطنونو کښې زمونږه دا وطن
غرونه، چمنونه پښتونخوا کښې عاليشان
بل خواته پنجاب کښې غله ډيره په ميدان
معدنيات ښۀ ډير په زمکه دَ بلوچستان
په کهجور ښکلې پوره سنده دَ پاکستان
ځائې ښه دَ سکون دَ خوشحالو دے دَ امن
ښکلې وطنونو کښې زمونږه دا وطن
دا مونږه اخستې له انګريز نه ښۀ په ګرانه
پټ نۀ دے تاريخ دغه ښکاره دلته له چانه
دومره لوئې نعمت نۀ ملاويږی په اسانه
ځان پوره خبر کړه دَ احمد له حق بيانه

دې دَ شهیدانو ځکه کور کلي مسکن
ښکلې وطنونو کښې زمونږه دا وطن

..............................

# مشغولتيا

دَ نظم په مدد سره په مناسبو ټکو لاندينی خالي ځايونه ډك کړئ .

غرونه، چمنونه ............ کښې عاليشان

بل خواته.........کښې غله ډيره په ميدان

معدنيات ښهٔ ډير په زمکه دَ ..............

په کهجور ښکلي پوره ........... دَ پاکستان

ځائي ښه دَ سکون دَ .............. دے دَ امن

ښکلي وطنونو کښې زمونږه ...... وطن

سوال : ماشومان دې دَ اُستاذ په مدد سره دَ پاکستان نقشه په يو چارټ جوړه کړي . بيا دې هغه نقشه دَ کلاس کښې په ديوال ايوزان کړي.

سوال : په نظم کښې دَ پاکستان دَ صوبو نومونه ذکر شوي دی هغه نومونه اُوليکئ .

دولسم سبق ............ دَ اول جمات دَ پاره

دَ زده کړې نتيجه:

ان شاء الله ماشومان به ددې نظم په مدد سره دوه اختـرونه اُوپيژني . او دَ اخترونو دَ صفاتو نه به خبر شي .

# دوه اخترونه

دوه اخترونه وی په هر کال کښې
دغه په حال کښې ، وخت استقبال کښې
ورځې دا دلته دَ خوشحالې وی
دا کۀ راغلی په زندگې وی
جامې بدلې ، پاکې توپې وی
نوې په خپو کښې ګوره څپلې وی
سکون دَ پاره په زړۀ ملال کښې
دوه اخترونه وی په هر کال کښې
په شريعت کښې دا مقرر دی

دا ورځې دلته چې دَ اختر دي
ځوانان ټول ووتی نن په چکر دي
دَ چم له کلي نه لرِ بهر دي
کله خوشحاله زړهٔ وی جنجال کښې
دوه اخترونه وی په هر کال کښې
جمع په دې کښې دا خاندان شی
يوځائې په دې کښې خواړه دوستان شی
راغونډ حجره کښې ټول مشران شی
خوشحاله هر خوا ته ټول کشران شی
يوځائې روټې خوری په جمع تال کښې
دوه اخترونه وی په هر کال کښې
پارکونه ډک شی له ماشومانو
ميلو کښې رش شی دَ انسانانو
خلق سوارهٔ شی په آس ، اُوښانو
خوارك دَ غوښې او دَ مهيانو
مهيان چې نيسی دَ سيند په جال کښې

دوه اخترونه وي په هر كال كښې
بار بار راتلے شی په زندګي كښې
اختر زيات والے په خوشحالي كښې
اختر راتلے شی هم په ګرمي كښې
دا په سپرلی كښې ، هم په يخني كښې
كله كله وي په پشكال كښې
دوه اخترونه وي په هر كال كښې
ركشه كښې ناست دي ، خلق موټر كښې
عجيبه خوند وي هغې چكر كښې
ناسته په ټرك كښې يا په ټريكټر كښې
كله چې راشی په يو اختر كښې
په حقيقت كښې ، نۀ وي په خيال كښې
دوه اخترونه وي په هر كال كښې
نصيب دي دلته دا دَ هر چا شی
خوشحاله دلته چې څوك بيا بيا شی
په دې شاكر دي دَ خپل مولا شی

په دې احمده ! چې رب رضا شی

فرق پکار دے حرام حلال کښې

دوه اخترونه وی په هر کال کښې

........................

# مشغولتيا

دَ نظم په مدد سره په مناسبو ټکو لاندينی خالی ځايونه ډك کړئ.

په شريعت کښي دا ........ دی
دا ورځي دلته چي دَ ......... دی
ځوانان ټول ووتی نن په ......... دی
دَ چم له کلی نه لرِ ......... دی
کله خوشحاله زړهٔ وی ........... کښي
دوه اخترونه وی په هر ........ کښي
جمع په دي کښي دا ........... شی
يوځائي په دي کښي خواړه ......... شی
راغونډ حجره کښي ټول......... شی

سوال: اخترونه څو دی ؟
سوال: اخترونو کښي خلق چرته ځی؟
سوال: اختر کښي څوك خوشحاله وی ؟

دیارلسم سبق ............ دَ اول جمات دَ پاره

دَ زده کړې نتيجه:

ان شاء اللـه ماشـومان به ددې منظوم سبق په وجـه دَ سـخـاوت دَ فـائـدو نـه خبر شی . او پـه هـغـوی کښـې بـه دَ سـخـی جـوړيـدلو جذبـه راپيدا کړی .

# سخي او سخاوت

دا چې نوم دَ سخاوت دے
څومره ښکلې ښۀ صفت دے
دا په زړونو بادشاهی ده
دا ډيره لويه نيکی ده
سعادت دا ښۀ عادت دے
دا چې نوم دَ سخاوت دے
سخی هر چا ته نزدې وی
مثالی ښۀ دروند سړې وی

ورسره په ژوند عزت دے
دا چې نوم دَ سخاوت دے
سخي خوښ دَ پاك سبحان وي
سخي خوښ دَ ټول جهان وي
ښه نيکي ده عبادت دے
دا چې نوم دَ سخاوت دے
بُخل تختې چې دا راشي
بخل تختي بيا فنا شي
خيال مې نۀ دے حقيقت دے
دا چې نوم دَ سخاوت دے
دا احمد له ربهٔ! ورکړے
ښکلي ژوند ئې دَ محشر کړے
ښۀ عظيم دَ ربّ نعمت دے
دا چې نوم دَ سخاوت دے

★★★★

# مشغولتيا

دَ نظم په مدد سره لاندېنی خالی ځايونه په مناسبو ټکو ډك کړئ .

سخی خوښ دَ پاك ........ وی

سخی خوښ دَ ټول........وی

ښه نيکی ده ......... دے

دا چې نوم دَ .......... دے

بُخل .......... چې دا راشی

بخل تختی بيا ...... شی

سوال : سخاوت څنګه صفت دے ؟

سوال : سخی انسان دَ چا خوښ وی ؟

سوال : سخاوت چې راشی نو څۀ څيز تختی؟

سوال : په نظم کښې يوشان آواز لرونکی ټکی راجمع کړئ او هغه ټول ټکې ماشومان په خپلو کاپو کښې خوش خطه اُوليکی .

څلوارلسم سبق ............ دَ اول جمات دَ پاره

دَ زده کړې نتيجه:

ان شاء الله ماشومان به ددې منظوم کلام په
مدد سره دَ حجرې اهميت اُوپيژنی .

# پُښتانۀ او حجره

برآمده ، صحن ، کمره ده
دَ پُښتو، پښتون حجره ده
کۀ جرګه وی دلته کيږی
دَ چم خلق راغونډيږی
نۀ ده غټه ، نۀ وړه ده
دَ پُښتو، پښتون حجره ده
ديوالونه ئې دَ ګټو
نوره جوړه ده دَ خټو
نۀ پخه ده ، نۀ کچه ده
دَ پُښتو، پښتون حجره ده

په قطار په کښي کتهونه
په ترتيب تول بالختونه
څو مره ښکلې دا نقشه ده
دَ دننه دا نقشه ده
دَ پُښتو، پښتون حجره ده
مسافر دلته کښي اُوسي
دا بشر دلته کښي اُوسي
پته نۀ ده ، ښۀ ښکاره ده
دَ پُښتو، پښتون حجره ده
خير له دلته نه خوريږي
دَ قومونو روغې کيږي
نۀ کهولاؤ ده ، نه تاله ده
دَ پُښتو، پښتون حجره ده
غم ښادو کښي دلته ناسته
کله کله دَ شپې ملاسته
دا ئې هم بله فائده ده

دَ پښتو، پښتون حجره ده

لوئې واړه دلته خوشحاله

حجره ماله، جوړه تاله

د لرګي ئې دروازه ده

دَ پښتو، پښتون حجره ده

دا آباده په پښتون ده

دا آباده په سکون ده

دَ احمد وينا خوږه ده

دَ پښتو، پښتون حجره ده

★★★★★★★

# مشغولتيا

دَ نظم په مدد سره په مناسبو ټکو لاندينی خالی ځايونه ډك کړئ.

کۀ جرګه وي ...... کيږي
دَ چم ....... راغونديږي
نۀ ده غټه، نۀ ..... ده
دَ پښتو، ......... حجره ده
ديوالونه ئې ... ګټو
نوره جوړه ده .... ختو
نۀ ....... ده، نۀ کچه ده
دَ پښتو، پښتون ........ ده

سوال: حجره څۀ ته وائي؟

سوال: حجره دَ کوم قوم په محله کښې وي؟

سوال: دَ حجرې فائدې څۀ څۀ دي؟

سوال: حجرې زمونږ ولې ضرورت دے؟

## پنځلسم سبق ............ دَ اول جمات دَ پاره

### دَ زده کړې نتيجه:

ان شاء الله ماشومان به په دې سبق کښې
منظوم شکل کښې مختلف اړونه اُوپيژنی .

# اړونه

وريځ

نه ئې سترګې په بدن شته
نور پوره ئې وجود تن شته
بيا هم ژاړی زۀ حيران يم
راته وائی په اسمان يم

لوګې

ځی په بره چې پيدا شی
ژوند ئې دلته په هوا شی
دا به څۀ وی اے هوښياره
نقصانی زمونږ دَ پاره

## دَ علم خزانه

هغه کومه خزانه ده
ده هم پټه هم ښکاره ده
خوغلا نۀ کيږی له دې نه
قيمتي له خزانې نه

## انار

دَ غاښونو کوټنې ده
په سر کړې ئې ټوپې ده
رنګ ئې سور وی مزيدار دے
دا خرڅ کړے دُوکاندار دے

## عمر

په مزه مزه ډيريږی
کۀ تۀ غوارے نۀ کميږی
دا به څۀ وی عقلمنده
اے دَ کلي عزتمنده

## ګلې

سپين سپين کاڼي دَ جهان

ورسره نري باران

ښۀ يخ ئې موسم کړلو

يخ ئې هر يو چم کړلو

وريځ

ښړ څادر يا سپين څادر

تورڅادر رنګين څادر

بره په آسمان دے ښور

کله کله جوړ کړي شور

لړم

نۀ دَ مور ديدن ئې کړے

نۀ دَ کور ديدن ئې کړے

مړ به شي په داسې حال کښې

دا به څۀ وي ستا په خيال کښې

دَ سترګو پرده

سترګې بندې دَ انسان کړي

ړونډ سړے جوړ دَ جهان کړي
ښۀ اسان د دي جواب دے
ښۀ عيان دَ دي جواب دے

تيارۀ

روندۀ ته ښکاري هرساعت
بينا نه لري قدرت
په صورت باندي تلك تُور
تپوس کوُلے شے دَ ورور
دَ څلوارلسمي څپوړمي
دا چي نن شولو پيدا
رُو رُو بيا شو په خندا
څلوارلس ورځو کښي بدن
د دۀ شولو پوره نن
دَ کيلي وُنه
نه لرګي لری په تن
غتي پاڼي دَ بدن

په اُوبو ډيرو غټيږی
نسل زر زر ئې خوريږی

## کيلا

نرم نرم ئې بدن وی
يو څادر ئې يو کفن وی
دا خوراك دَ رنځورانو
خوښ دَ ټولو ماشومانو

## اُوبهٔ

په وينځلو ګنده کيږی
تالابونو کښې اُودريږی
په قطرو کښې راروانې
په قيمت ډيرې ارزانې

..................

## زمرې

نه محل ئې نهٔ مکان شته
دبدبه ئې په جهان شته

په نامه دَ باچا ياد دے

ښه تکړه ئي هم اولاد دے

## خوله

چې ګرمي شي په بدن وي

په يخني کښې صفا تن وي

دَ مزدور په بدن ډيره

جواب راكړۀ راته شيره!

## اګې

چې په اُور باندې شي ګرمه

سخته هر يو حصه نرمه

كله كله په اُوبو كښې

كله كله په غوړو كښې

## باران

پاس نه لاندې راروان وي

نه وي پاس چې شين اسمان وي

هر يو څيز ورسره پاك شي

دَ فصلونو ژوند خوراك شی

په دسمبر کښېD

نورو مياشتو کښې نۀ ښکاری
دسمبر کښې دا ښۀ ښکاری
ورته سوچ فکر پکار دے
جواب تيك چې کړی هوښيار دے

29 فروری

هر کال نه وی دا په کال کښې
کله کله راشی حال کښې
دا حصه دَ فروري ده
يو حصه دَ زندګي ده

اُودۀ انسان

نه په ځان نه په جهان وی
ناخبر له خاندان وی
سترګي پټې دَ بدن وی
دا صورت دَ کوم يَو تن وی؟

# ګلاب جامن

نهٔ دې بوټې ، نهٔ میوه ده
ښهٔ خوږه د دې ذائقه ده
اخترونو په ښادو کښې
دا زمونږ وی خوشحالو کښې
وخت
په قیمت نهٔ ملاویږی
قیمتی دے ضائع کیږی
هوښیاران ئې قدردان دی
چې ضائع کړی نادانان دی
★★★★★★

# مشغولتیا

دَ تیر سبق په مدد سره دې په مناسبو ټکو لاندینی خالی ځایونه ډك کړئ.

نۀ دې ........ ، نۀ ...... ده

ښځه ..... د دې ........ ده

اخترونو په ........ کښې

دا زمونږ وی ............. کښې

......................................

چې ګرمی شی په .......... وی

په ............ کښې صفا تن وی

دَ .............. په بدن ډیره

جواب راکړۀ .......... شیره!

.........................................

نه ............. ئې نۀ مکان شته

دبدبه ئې په ............ شته

شپاړسم سبق ............ دَ اول جمات دَ پاره

دَ زده کړې نتيجه:

ان شاء الله ماشومان به ددې منظوم کلام په مدد سره د دُعاکولُو طريقه زده کړي .

# دُعا

خدايه ! مونږه ټول پوره په سمه لار کړې
مونږ قابل دَ بندګۍ دَ خپل ديدار کړې
سمه لار دَ نعمتونو غواړم نيغه
سمه لار دَ راحتونو غواړم نيغه
سمه لاره راته نيغه دَ وقار کړې
خدايه ! مونږه ټول پوره په سمه لار کړې
نيغه لار دَ صادقانو خلقو خدايه !
دَ نبيانو صالحانو خلقو خدايه !
ښکلي خلق مې ملګرې په هر دار کړې

خدايه! مونږه تول پوره په سمه لار کړې

ملګرتيا زۀ دَ جانان ﷺ دَ نبی ﷺ غواړم
مينه مينه دَ ژوندون حقيقي غواړم
په اذکارو زمونږ زړونه تول بيدار کړې
خدايه! مونږه تول پوره په سمه لار کړې

دا دُعا غواړي احمدعلی په جار
دا دُعا کوی هر يو بشر بار بار
نصيب دې سره زمونږ دَ زړۀ قرار کړې
خدايه! مونږه تول پوره په سمه لار کړې

★★★★★★★★